# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**11حمل_سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

یک قاچاقبر به جرم انتقال مهاجران به ۱۸ ماه زندان محکوم شد ----------------------------------------------------4
300خانواده در تخار مساعدت شد -------------------------------------------------------------------------------5
صدها خانواده در کابل مساعدت شد----------------------------------------------------------------------------6
د پا دو کالي قومندان په ۲۰۲۰ کې د کډوالو د يو کمپ د ويجاړولو په تور محکوم شوی ------------------------------6
پناهجویانی که بازگشت به اوکراین را به پناهندگی در لهستان ترجیح می‌دهند ------------------------------------------8
د فرانسي شمالي سيمه کې يو قاچاق وړونکی په ۱۸ مياشتو بند محکوم شوی ----------------------------------------9

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## یک قاچاقبر به جرم انتقال مهاجران به ۱۸ ماه زندان محکوم شد

مهاجر نیوز




**یک راننده البانیایی به جرم انتقال ۴۷ مهاجر در یک وان به ۱۸ ماه زندان قطعی محکوم شد. او هنگام انتقال شبانه مهاجران به مقصد شهر کاله، در یک شاهراه شمال فرانسه دستگیر شده بود .**

**پولیس شمال فرانسه یک راننده ۲۳ ساله البانیایی را شب ۲۵ سپتمبر در یکی از شاهراه‌ها به مقصد کاله دستگیر کرد.**

**پولیس قبل از دستگیری راننده متوجه شد که وان این راننده بیش از حد مسافر دارد و به کندی در جاده حرکت می‌کند.**

**بعد از کشف ۴۷ مهاجر در داخل وان، راننده نخست تلاش کرد خود را در میان مهاجران پنهان کند اما توسط یک پولیس شناسایی و دستگیر شد.**

**به گزارش روزنامه له وا دو نور، پولیس در تیلفون او نشانی یک گذرگاه ساحلی برای ورود مهاجران به کانال مانش و چندین سایت انترنتی فروش کشتی‌های لاستیکی برای عبور از کانال را پیدا کرد.**

**راننده بعد از این که در یک دادگاه فوری در بولوین سور مر احضار شد به ۱۸ ماه زندان و ممنوعیت پنج سال اقامت در فراسه محکوم شد.**

در یک مورد دیگر، در ۲۴ مارچ، دادگاه شهر رن، در شمال غرب فرانسه، ۲۷ کرد عراقی را به دوره‌های مختلف زندان محکوم کرد.

این افراد که اعضای یک گروه قاچاقبران بودند مهاجران را از مناطق مرکزی فرانسه به انگلستان انتقال می‌دادند.

آن‌ها مهاجران را در بدل ۱۰۰۰ یورو هر نفر، از طریق کشتی و در صورتی توانایی مهاجران، ۶۰۰۰ یورو هر نفر در کامیون انتقال می‌دادند.

گروه یاد شده هزینه مسافرت در کامیون را بین ۶۰۰۰ هزار تا ۸۰۰۰ هزار در صورت جاسازی مخفیانه در داخل کامیون، حساب می‌کردند.

حدود دو هفته پیشتر، سه قاچاقبر دیگر کرد عراقی، که سردسته یک شبکه وسیع قاچاقبران محسوب می‌شدند، به دوره‌های مختلف زندان محکوم شدند

## 300خانواده در تخار مساعدت شد

ویب سایت وزارت



ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت تخار برای 300 خانواده بیجاشده، بی بضاعت ، وخانم های بیوه به تاریخ 9 حمل مواد خوراکی مساعدت نمود.

مساعدت یادشده که شامل، آرد ، برنج ، روغن ، لوبیا و بوره بود از سوی موسسه HHRD برای خانواده های مستحق بعد ازسروی توزیع شد.

## صدها خانواده در کابل مساعدت شد

ویب سایت وزارت



**ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت کابل برای 600 خانواده بیجاشده و نیازمند نواحی مختلف به تاریخ 9 حمل مواد خوراکی مساعدت نمود.**
**هر خانواده پس از بررسی این مساعدت موسسه کمک کشور آلمان برای اطفال افغان را که شامل ، 25 کیلو آرد ، 7کیلو برنج ، 5 لیتر روغن ، 5کیلو لوبیا ، نیم کیلو چای ، و 5 کیلو بوره بود دریافت نمودند.**

## د پا دو کالي قومندان په ۲۰۲۰ کې د کډوالو د یو کمپ د ویجاړولو په تور محکوم شوی

مهاجر نیوز

**د دویي محکمې د مارچ پر ۲۴مه د کالي قومندان د کډوالو د یو کمپ د ویجاړولو په تور محکوم کړ .نوموړي په ۲۰۲۰ کې د اداري قاضي د اجازې پرته د کډوالو یو کمپ تړلی و. دغه کمپ کې نږدې ۸۰۰ مهاجرو ژوند کاوه.**

**د پا دو کالي قومندان د دویي محکمې له خوا په ۲۰۲۰ کې د اداري قاضي له اجازې پرته د کډوالو د یو کمپ د ویجاړولو په تور محکوم شوی دی.**



محکمې په خپل فرمان کې چې د فرانسې خبري اژانس ورته لاسرسی موندلی ویلي، یاد قومندان د محکمې د اجازې پرته کډوال له کمپه ایستلي او په لنډمهال ډول یې د کمپ د اوسېدونکو ازادي محدوده کړې ده.

شکایت کوونکو چې په ډله کې یې ۱۱ مهاجر او ۸ سازمانونه دي د ۲۰۲۰ په دسمبر میاشت کې محکمې ته شکایت ثبت کړی و. دوی له محکمې څخه غوښتي وو چې د ۲۰۲۰ په سپتمبر میاشت کې ویروال زون کې د کډوالو د کمپ د ویجاړولو عملیات باید «غیرقانوني» وبلل شي. دغه کمپ کې هغه ۸۰۰ مهاجرو ژوند کاوه چې غوښتل یې برتانیا ته ځان ورسوي.

یاد مهاجر د سومالیا، سوډان، ایران، عراق او اریتریا اصلي اوسېدونکي وو. هغه مهال سازمانونو ویلي وو چې د کمپ ډېری اوسېدونکي کم عمر لرونکي او بې سرپرسته دي او ستونزو ته یې هېڅ ډول رسیدګي نه ده شوې.

د شکایت کوونکو مدافع وکیلې مي ابو تیفري د فرانسې خبري اژانس ته ویلي چې محکمې غوښتل چې معلومه کړي چې ایا دا کار د «مشهود جرم» د حقوقي قاعدې په چوکاټ کې ترسره شوی دی که نه.

هغه مهال د پا دو کالې قومندان ویلي وو چې د څارنوال د حکم پر بنسټ یې یاد کمپ ویجاړ کړی دی. په وینا یې یوازې یوه ورځ مخکې ورته ویل شوي وو چې سیمه کې ۴۵۰ خیمې درول شوې دي او هغه بیا یوه ورځ وروسته د کډوالو کمپ تړلی و.

خو دغه عملیات د مشهود جرم قاعدې پر بنسټ ترسره شوي نه وو. د پا دو کالې قومندانی تر عملیاتو وروسته په یوه خبرپاڼه کې ویلي وو چې یاد کمپ له «څو اونیو» راهیسې جوړ شوی دی. حال دا چې د مشهود جرم په صورت کې چارواکي یوازې ۴۸ ساعته وخت لري چې د جرم مخه ونیسي.

د محکمې په حواله دغه ثبوتونه ښیي چې قومندانی مخکې له مخکې له کمپ د شتون په اړه اطلاع درلوده.

بل پلو د پا دو کالې قومندانی د کمپ د ویجاړولو د عملیاتو د ترسره کولو لپاره د اداري قاضي اجازه نه وه اخیستې.

محکمه په دې آند ده چې قومندان د اجازې پرته دغه عملیات ترسره کړي او د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن پر هغه ټویټ یې تکیه کړې چې ویلي یې وو د «۶۲ قومندانی» د عملیاتو ملاتړ کوي.

دغه راز یادې قومندانی په لندمهاله توګه د کډوالو ازادي محدوده کړې او کډوال یې په زوره سرویسونو ته سپاره کړي وو.

شکایت کوونو له محکمې څخه غوښتي وو چې هر یو شکایت کوونکي کډوال ته باید ۵۰۰۰ یورو او هر یو سازمان ته بیا ۱۰۰۰ یورو ورکړل شي. محکمه به د قومندانی د استیناف غوښتنې پرته د مارچ پر ۲۳مه خپل نهايي تصمیم اعلان کړي.

## پناهجویانی که بازگشت به اوکراین را به پناهندگی در لهستان ترجیح می‌دهند

یورونیوز



- Copyright Credit: Aleksandar Brezarکپی رایت یورونیوز

**در حالیکه جنگ اوکراین وارد ششمین هفته خود می‌شود، شمار پناهجویانی که تصمیم گرفته‌اند زندگی خود را در اتحادیه اروپا ادامه دهند، همچنان افزایش می‌یابد.**

**صدها زن، کودک، پیرمرد و پیرن اوکراینی، شامگاه دوشنبه در ایستگاه شامیشیل (Przemyśl) در جنوب شرقی لهستان منتظر قطار شب کی‌یف ایستاده‌اند.**

**ناتالیا، زن ۴۶ ساله اوکراینی یکی از مسافرانی است که می‌خواهد به کشور جنگ زده‌اش باز گردد. او اهل شهر زاپوریژیا است؛ شهری که در هفته دوم حمله روسیه به اوکراین و پس از انفجار در بزرگ‌ترین نیروگاه تولید برق هسته‌ای اروپا، تیتر یک رسانه‌های جهان شد.**

**ناتالیا، پسر ۱۶ ساله‌اش را از مهلکه جنگ و خدمت اجباری فراری داده و حالا می‌خواهد نزد شوهر و مادر سالخورده‌اش باز گردد. او به یورونیوز می‌گوید: «ترتیب خروج پسرم را دادم. آوردمش و اینجا می‌ماند تا جنگ تمام شود. خودم پیش شوهر و مادرم بر می‌گردم«.**

**آنطور که ناتالیا می‌گوید بسیاری از شهروندان اوکراینی، تصمیم به بازگشت به کشور جنگ‌زده خود دارند: «در لهستان نه امکاناتی هست و نه کاری. مردم هم برای سفر و تفریح به اینجا نیامده‌اند «.این تصمیم به‌ویژه پس از برقراری آرامشی نسبی به جبهه‌های جنگ قوت گرفته و اگر روند مذاکرات امیدبخش باشد، جدی‌تر هم خواهد شد.**

**د فرانسې شمالي سيمه کې يو قاچاق ورونکی په ۱۸ مياشتو بند محکوم شوی**

مهاجر نیوز



**د بولونی سور مېر محکمې د مارچ پر ۲۳مه یو ۲۳ کلن البانیایی قاچاق وړونکی په ۱۸ میاشتو بند محکوم کړ. نوموړی ځو ورځې مخکې د کالې پر لویه لاره په داسې حال کې ونیول شو چې ۴۷ کډوال یې خپله لارۍ کې کالې ته انتقالول.**

**د بولونی سور مېر محکمې دغه ۲۳ کلن البانیایی قاچاق وړونکی په ۱۸ میاشتو تنفیذي بند محکوم کړی دی. نوموړی غه راز اجازه نه لري چې د پنځو کلونو په موده کې فرانسې ته سفر وکړي. پولیسو هغه په داسې حال کې نیولی و چې ۴۷ کډوال یې خپله لارۍ کې کالې ته انتقالول.**

**د محکمې له مخې دغه لارۍ پولیسو د تېرې جمعې په شپه (د مارچ ۲۵) موندلې وه چې د کالې پر لور روانه وه. موټر چلوونکي لومړی هڅه وکړه چې د لارۍ له درولو ډډه وکړي، بیا یې ځان د مهاجرو منځ کې پټ کړ.**

**د وا دو نور ورځپانې په حواله پولیسو د پلټنو په ترڅ کې د نوموړي هویت تشخیص کړ.**

**د یادولو ده چې د مارچ پر ۲۴مه ۲۷ تنه کردي عراقیان هم د رن محکمې له خوا په بند محکوم شول. دوی له فرانسې څخه مهاجر برېتانیا ته انتقالول او ور ته یې دوه وړاندیزونه کول: د کښتۍ له لارې او یا په لاریو کې. کښتیو کې د مهاجرو د انتقالو بیه ۱۰۰۰ یورو او لاریو کې بیا ۶۰۰۰ یورو وه .**

**همدارنګه دوه اونۍ مخکې دنکرک کې دری کردي عراقیان په بند محکوم شول. داسې ویل کېږي چې دوی د یوې لویې قاچاقي ډلې مشران دي .**

**په ۲۰۲۱ کې تر ۲۸۰۰۰ ډېر کسان د انګلیس کانال له لارې برتانیا ته رسېدلي دي. فرانسه او برتانیا هڅه کوي چې د کډوالو د مخنیوي لپاره سره ګډ کار وکړي. د همدې لپاره ټاکل شوې ده چې د فرانسې په سواحلو کې امنیتي کمرې ولګول شي .**